لړلیک

عنوان پاڼه
سریزه ........................................................................................................................ 1
لومړی فصل.................................................................................................................. 2
عمومیات ..................................................................................................................... 2
موخې ......................................................................................................................... 2
لمړی ماده .................................................................................................................... 2
دوهم فصل................................................................................................................... 2
دوهمه ماده................................................................................................................... 3
دریم فصل.................................................................................................................... 4
متفرقه احکام ................................................................................................................ 4
د پالیسی د پلي کیدو څخه نظارت.......................................................................................... 4
دریمه ماده.................................................................................................................... 4
د پالیسی خپرول او لاسرسی ................................................................................................ 4
څلورمه ماده.................................................................................................................. 4
د سمون او انفاذ طریقه ...................................................................................................... 4
پنځمه ماده ................................................................................................................... 4

**سریزه**

مشوره اصلاح ده چې سالم عقل په سالم بدن کې دی ، که چېرې يو شخص په روحي او بدني لحاظ روغ وي ،نو کولای شي خپلې ورسپارل شوي دندې په ښه او منظمه توګه تر سره کړي. که چېرې اشخاص ، نهادونه او حکمونه د خپلو کارکوونکو روغتيا ته جدي پاملرنه ونه کړي ، نه يوازې دا چې دوی به خپل کاري ځواک له لاسه ورکړي ، بلکې د دې تر څنګ به نوموړي نهادونه او حکومتونه له لوی زيان سره مخامخ شي . نو د روغتيا اهميت ته په کتو د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې د کيفيت لوړونې او اعتبار ورکونې يوولس (۱۱) ګونو معيارونو ته په کتو ټولو کارمندانو ، استادانو او محصلانو ته په معياري ډول د روغتيايي خدماتو چارې د رهبری له خوا تنظيم شوي دي.

نوموړي خدمات نه يوازې د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې اړوند کارمندان، استادان او محصلين بلکې د دوی کورنۍ هم د اړتيا په وخت کې مراجعه کولای شي . البته د مؤسسې تدريسي روغتون چې د عبدالي طبی کمپلکس او متون بابا کلينيک په نوم يادېږي تر سره کيږي.

## لومړی فصل

## عمومیات

### موخې:

### لمړۍ ماده :

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې روغتیایي پالیسۍ هدفونه په لاندې ډول دي.

۱. د صحي شرایطو جوړول تر څو د ناروغیو مخه ونیسي.

۲. په بیړنیو حالاتو کې د صحي خدماتو په وړیا ډول وړاندې کول.

۳. د روحي او جسمي حالت ډاډمن کول، چې په دې کلینیکي روغتیایي خدمات ، د ښنلو پاکې اوبه ،روغتیایي خدمات جوړول د چاپېریال حفظ الصحه.

## دوهم فصل

## د روغتیایي پالیسی څرنګوالی

### دوهمه ماده :

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې رهبري محصلاتو ته د صحي خدماتو وړاندې کولو ته لومړیتوب ورکوي.

۱. په رسمي ورځو کې د منظم پلان له مخې محصلانو ، استادانو او کارمندانو ته د خدماتو وړاندې کول.

۲. په وړیا ډول د صحي خدمات وړاندې کول .

۳. د یو مقدار درملو ورکړه په وړیا ډول.

۴. مالي او اداري معاونیت ته باید د لومړنیو روغتیایي مرستو په نوم یو اطاق ځانګړی کړي اوپه رسمي وخت کې باید خدمات وړاندې کړي.

۵. د مؤسسې اړوند استادان، اداري کارمندان او محصلنیو لپاره ۲۴ ساعته صحي خدمات وړاندې کول.

٦. د مالي او اداري معاونیت لخوا د روغتون سره په هماهنګی یو عراده امبولانس تدارک شي تر څو په عاجلو او عادي حالتو کې ورڅخه استفاده وشي .

۷. د درملو اکمال لپاره دې له کادري روغتونونو ، دولتي کلینیکونو ، خصوصي روغتونونو او همدا ډول د درملو خرڅلاو عمده فروشیو او د بهرنیو دفترونو څخه دې مرسته وغوښتل شي.

۸. محصلانو ته دې د اعتیاد مخنیوي ، د ساري ناروغیو او مزمنو ناروغیو په هکله د منظم پلان له مخې عامه پوهاوی ورکړل شي.

۹. د احمدشاه ابدالي لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه مکلفیت لري ، چې د ساري ناروغیو او شعباتو صحي ساتلو تجهیزات برابر کړي.

۱۰. د حفظ او مراقبت مدیر دې د شعباتو سره په هماهنگۍ د تشناونو او لاس مینځلو په نظافت کې اقدام وکړي.

## دریم فصل

## متفرقه احکام

### د پالیسۍ د پلي کیدو څخه نظارت

### دریمه ماده

۱. اداري معاونیت او د پوهنځۍ ریاست د نظارت واک او مسؤلیت لري.

### د پالیسۍ خپرول او لاسرسی :

### څلورمه ماده:

نوموړي پالیسي دې احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو مؤسسې د رهبري لخوا تصویب او د جلساتو په کتاب کې ثبت شي او د مؤسسې د ریاست څخه دې خپره شي ، همداشان په چاپي ډول دې ورته هم لاسرسی وشي.

### د سمون او انفاذ طریقه

### پنځمه ماده

د عبدالي طبي کمپلیکس او متون بابا تدریسي روغتونونو لپاره د مؤسسې اړوند روغتیایي پالیسي په اداري او علمي شوراگانو کې د تصویب او تائید نیټې په لاندې ډول دي

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې روغتیایي پالیسي د اداري (رهبرۍ) شورا په ۱۴۰۴/۰۲/۰٦ نیټه غونډه کې چې پروتوکول نمبر (۲) دی تائید ده.

د احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسې روغتیایي پالیسي مؤسسې علمي شورا په ۳۰ / ۰۵ /۱۴۰۴ نیټه غونډه کې چې د پروتوکول نمبر یې ( ۴ ) دی تصویب شوه.

ترتیب کوونکی: مالي او اداري چارو مرستیال

اسلام الدین وهاج

تائید کوونکی: د مؤسسې رئیس

پوهاند گل محمد جنت زی